**د افغانستان اسلامي امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**وردګ دلوړو زده کړو مؤسسه**

# ستراتیژیک پلان

# «۱۴۰۰-۱۴۰۴»

# لړلیک


| سرلیک | | کڼه |
|---|---|---|
| 1 | **لومړی څپرکی** | 1 |
| 1.1 | **وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د رئیس پیغام** | 1 |
| 1.2 | **سریزه** | 4 |
| 1.3 | **وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې تاریخچه** | 5 |
| 1.4 | **لرلید** | 9 |
| 1.5 | **رسالت** | 9 |
| 1.6 | **ارزښتونه** | 9 |
| 1.7 | **وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتژیک اهداف** | 10 |
| 1.8 | **تحلیل او تجزیه(SWOT)** | 10 |
| 1.8.1 | د داخلي لاملونو تحلیل | 12 |
| 1.8.2 | د خارجي لاملونو تحلیل | 14 |
| 1.9 | **وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتژیک موقعیت** | 17 |
| 1.10 | **وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتژیک حالت** | 17 |
| 1.11 | **وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتیژي ګانې** | 18 |
| 1.11.1 | ښه حکومتولي | 18 |
| 1.11.1.1 | رهبری پرګرامونه | 18 |
| 1.11.1.2 | مالي ، اداري او علمي استقلالیت | 19 |
| 1.11.1.3 | د مالي خپلواکۍ تر لاسه کول | 19 |
| 1.11.1.4 | د فساد پر وړاندې د مبارزه | 20 |
| 1.11.1.5 | نظارت او ارزونې تقویت | 21 |
| 1.11.1.6 | تفاهم لیکونه او توامیتونه | 21 |
| 1.11.1.7 | مرستو جلبول | 21 |
| 1.11.2 | علمي څېړنې او پرګرامونه | 22 |
| 1.11.2.1 | د علمي او سیال کادري استادانو تشکیلاتي پراختیا | 22 |
| 1.11.2.2 | د کادري پرسونل د ظرفیت لوړونه | 22 |
| 1.11.2.3 | د علمي شورا ایجاد | 23 |
| 1.11.2.4 | تضمین کیفیت او اعتبار تر لاسه کول | 24 |
| 1.11.2.5 | درسي مواد پراختیا | 24 |
| 1.11.2.6 | الکترونیکي زده کړې | 25 |
| 1.11.2.7 | معلوماتي ټکنالوژۍ ته لاسرسی | 25 |
| 1.11.3 | خدمات | 26 |
| 1.11.3.1 | لوړو زده کړو ته لاسرسی | 26 |
| 1.11.3.2 | لوړو زده کړو ته د ښځینه وو لاسرسی | 26 |
| 1.11.3.3 | کریډټ سیستم تقویت او تطبیق | 27 |
| 1.11.3.4 | د محصلینو د خدماتو تقویت | 27 |
| 1.11.3.5 | د فرهنګي، هنري او ورزشي فعالیتونو د پاره زمینه مساعدول | 27 |
| 1.11.4 | زیربنا | 28 |
| 1.11.4.1 | د ماستر پلان جوړول | 28 |
| 1.11.4.2 | د پوهنتون د احاطې دیوال جوړول | 28 |

| | | |
|---|---|---|
| 1.11.4.3 | تدریسي او اداري تعمیرونو جوړول | 28 |
| 1.11.4.4 | لابراتوارونو ، د کرنې پوهنځی  څېړنیز فارم ، مجهزې کتابخانې او کمپیوټر لب درلودل | 28 |
| 1.11.4.5 | د ورزشي میدانونو ، جمنازیم ، ایدیتوریم او صحي کلینیک جوړول | 29 |
| 1.11.4.6 | د شنې ساحې جوړول | 30 |
| 1.11.5 | وردک د لوړو زده کړو مؤسسې د ستراتژیکانو اولویت ټاکل | 33 |
| 1.11.6 | وردک د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتژیک اولویت | 34 |
| 1.12 (KPIs) | ستراتژیک مقاصد ، د پوهنتون موخې سره له مهال ویش  او اړین اجراآت | 38 |
| 1.1 | د وردک پوهنتون پنځه کلن مالي پلان (۱۴۰۰-۱۴۰۴) | 43 |
| 2 | دوهم څپرکی | 45 |
| 2.1 | د ستراتیژیکانو اجراء | 45 |
| 3 | دریم څپرکی | 46 |
| 3.1 | نظارت او ارزیابي | 46 |
| 4 | څلورم څپرکی | 48 |
| 4.1 | ضمیمې | 48 |
| 4.1.1 | ۱شمیره پوښتنپاڼه : داخلي وضعیت تجزیه او تحلیل | 48 |
| 4.1.2 | ۲ شمره پوښتنپاڼه : بیروني وضعیت تجزیه او تحلیل | 49 |
| 4.1.3 | ۳شمیره پوښتنپاڼه : د وردک پوهنتون د علمي برخې پراختیایي جدول | 50 |
| 4.1.4 | ۴شمیره پوښتنپاڼه :د وردک پوهنتون د علمي او اداري تشکیلاتو پراختیایي جدول | 51 |

# 1 لومړی څپرکی

## 1.1 وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د رئیس پیغام

د یوویشتمې پیړۍ د انکشاف او غوړېدنې یو ستر راز د ښوونې او روزنې په قالب کې نغښتی. همدا پېړۍ د بشري ژوندانه د عروج او آن د انسان د لا شعوري اړخونو هڅوونکې او ویښوونکې پېړۍ بلل کېږي. انساني نوعې یا په بل ډول متمدن انسان، چې کله ځانځاني ثقافت ته شا کړه ، د ژوندانه په هر ډګر کې یې نوښتونه او پنځونې وکړې. دوې متضادې قوې ( خیال او حقیقت) یې سره وګنډلې ، د دې ترون او همغږۍ پر اساس یې د نړۍ له اسرارو پرده پورته کړه. ټولنې د خپلو اکاډمیکو څېړنو، پلټنو او سپړنو له امله په اتومي ځواکونو بدلې شوې . دې علمي څېړنو او پلټنو نړۍ وخوځوله ، د جهالت بوت یې مات او د نوي تفکر زړې یې وکرل. په هغو لالهانده افکارو کې یې انقلاب راوست ، چې د لرغونو متونو ، مقتدي او د اسطورو په خیالي زندانونو کې نښتي وو. د دې چټکې پراختیا او پرمختیا تر شا د ویښو ولسونو او هڅانده ځوانانو هغه ځواکمنې او فولادي ارادې وې ، چې خپلې ټولنې یې د علم، اقتصاد، سیاست، فرهنګ..... پرمختګ او غوړېدنې لوري ته ورټېل وهلې. همدا ویښ ولسونه او ځیرک ځوانان وو ، چې د بشر لپاره یې نه ستړي کېدونکي خدمتونه تر سره کړل.

طبعي ده ، چې د هرې پدیدې وده او غوړېد نه پرته له محرک، پوهې او څېړنو ،پلټنو ناشـــونی کار دی ، چې دا هر څه هغه وخت ترلاســه کیږي ، چې خپل ځوان نسـل مو په اسـلامي او عصرـي زده کړو ســمبال شي ، د اسلامي او عصري زده کړو حاصلول او هغه ته د راتلونکې نسل جدي توجه یو له هغو مهمو او ارزښت لرونکو موضوعاتو څخه شمیرل کیږي ، چې همدا ځوان قشر به ورته پاملرنه او توجه کوي او هیره دې نه وي چې تاسو ځوانانو ته په دې برخه کې یو لوی دیني او ملي مسؤلیت متوجه دی ، د یو نو ښت، پرمختګ او ر شد جوهر د علم او تکنالوژۍ په وجود کې نغښــتی، علم او تکنالوژي د اکاډمیکو چاپېریالونو او ټولنو زیږنده وي. نو همدا لامل و ، چې په نړیواله کچه علمي مرکزونه ایجاد شول همدا اکاډمیک سیستمونه او مراکز دي، چې ټولنې ته وړ کادري شخصیتونه وړاندې کوي او همدا شخصیتونه خپله د ټولنو د هر پرمختګ او شاتګ د سمبول په توګه دنده تر سره کوي.وخوځیږي.

وردگ پوهنتون هم د هغو علمي او اکاډمیکو مرکزونو یوه ځانگه ده ، چې د ولسي هڅو ، هڅاندو او اکاډمیکو ځوانانو د ځواکمنو ارادو په پایله کې رامنځته شوی. د دې علمي مرکز او کانون د پرمختګ او شاتګ عوامل هم د همدې ولسونو او په دې کانون کې د شته استادانو او اداري کارکونکو په ارادو ، هڅو او مرستو پورې تړلي دي ،چې خوشبختانه په دې برخه کې دپورته ذکرشویو کسانو قوي ژمنتیا شتون لري .


په درنښت

وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس

پوهنیار حمیدالله عمري

## د وردگ د لوړو زده کړو موسسې د ستراتیژیک پلان چارچوب

### د وړاندیز لومړنی ماډل



## 1.2 سریزه

په پوهنتونو کې د ستراتیژیک پلان شتون اړین او ضروري دي تر څو د هغې په رڼا کې نوموړی پوهنتون ټول خپل علمي او اداري فعالیتونه تنظیم کړي، پوهنتونونه هغه منظم ټولنیز بنسټونه دي چې تر ټولو غوره محصول يې علم او پوهه ده. په پوهنتونونو کې پوهه کشف، حفظ، انتقال او د ګټې اخیستنې وړ ګرځول کیږي. په دغه ستراتیژیک پلان کې د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکولو، د نویو څانګو او پوهنځیو پراختیا او رامنځته کولو، د زیربنایي برنامو جوړولو، د ښوونې او روزنې لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کولو او معیاري کولو ته اساسي پاملرنه شوې ده. چې ددې برنامو په تطبیق سره به وردګ د لوړو زده کړو موسسه د نورو پوهنتونونو په منځ کې خپل ځای ولري.

پدې ستراتیژیک پلان کې د وردګ لوړو زده کړو مؤسسې له تاریخچې، جوړښت او تشکیلاتو وروسته د روښانه لرلید، رسالت، ارزښتونو، ستراتیژیکو موخو، ستراتیژیکو پلانونو، د وردګ لوړو زده کړو موسسې د داخلي او خارجي عواملو تحلیل د سوات د طریقې په اساس. د نوموړې موسسې د ستراتیژیو ټاکل، همدارنګه د ستراتیژیو د اولیت بندۍ او عملیاتي پلانونو په اړه پلټنې شوي دي، چې د فرصتونو او قوتونو څخه دګټې اخیستنې په موخه د دې تحصیلي موسسې کمزوري نقطې له منځه یوړل شي. د دغه پنځه کلن ستراتیژیک پلان په پلي کېدو سره به وردګ د لوړو زده کړو موسسه وکولای شي چې د پوهنې د سیستم په پیاوړتیا کې اساسي رول ولوبوي.

وردګ د لوړو زده کړو موسسې ستراتیژیک پلان درې اساسې برخې لري چې عبارت دي له:

د ستراتیژیو جوړول ؛ د ستراتیژیک پلان جوړونې یو له پړاوونو څخه د ستراتیژیو جوړول دي، چې په کې د لرلید، رسالت، ارزښتونه، موخې، د محیطي (داخلي او خارجې) عواملو تحلیل ، ستراتیژیک موقعیت ټاکل، د ستراتیژیو انتخاب او د ستراتیژیو د اولویت تعینول پکې شاملیږی، اجرا ؛ د ستراتیژیک پلان دوهمه مرحله د اولویت بندۍ په اساس ستراتیژیو پلي کول دي، د لنډ مهاله اهدافو ټاکل، کلنی کاري پلان، بودیجه جوړول، اجرایوي پالیسیو جوړول، د منابعو تخصیص او ارزونه؛ دریم مرحله کې د ستراتیژیو نظارت او ارزونه شاملیږی.

د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه کې د یاد پلان په تطبیق سره به زیات نوښتونه رامنځته شي او هم به د ټولنې غوښتنو ته تر ډیره حده ځواب ویونکي اوسي، چې په نتیجه کې به یاده تحصیلي مؤسسه د هیواد او نړۍ په کچه د پوهنتونونو په قطار کې ځای خپل کړي.


### 1.3 وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې تاریخچه

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه د لوړو زده کړو وزارت د وړاندیز او د افغانستان د جمهوري ریاست د حکم پر بنسټ په (۱۳۹۳) لمریز کال کې د کابل –کندهار په لویه لار د وردګ ولایت د ټوپ دښتې په سیمه کې د (۵۰۰) جریبه ځمکې پر مشخصه کولو سره منظوره شوه او په (۱۳۹۴) لمریز کال یې عملا په فعالیت باندې پیل وکړ.
یاده تحصیلي مؤسسه تر دې مهال، د کرنې پوهنځی په چوکاټ کې دوه ډیپارتمنټونه (هارتیکلچر او اګرانومي)، او د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ دوه دیپارتمنتونه (ریاضي او فزیک) لري او د کمپیوټرساینس پوهنځی په دوه ډیپارتمنټونو (انجینري شبکه او معلوماتي سیستمونه ) سره منظورشوی دی، چې په کال **۱۳۹۹** کې یې د محصلینو شمېر ( ٦۲۳) تنو ته رسیده. تر دې دمه یې ټولټال (۱۴۷) تنه د علم او هنر په زور سمبال ځوانان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.
د یادې تحصیلي مؤسسې ټول تشکیل (۴۳) کسانو ته رسیږي ، چې لدې جملې څخه (۲۱) پکې کادري او اکاډمیک او (۲۲) نور یې اداري او خدماتي کارکونکي دي (د نورو جزئیاتو لپاره ۱ شمېرې جدول او ۲ شمیرې دیاګرام ته مراجعه کولای شی). د محصلینو شمېر ته په کتو سره ویل کېدای شي، چې د یو تن استاد لخوا په اوسط ډول د ۵۱ کسانو لپاره تدریس صورت مومي **( د محصل او استاد نسبت ۱ : ۴۲ )**.

۱ شمېره جدول: وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو احصائیه


| شمېره | پوهنځی | علمي رتبه | | | | | | | علمي درجه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | پوهیالی | نوماند پوهنیار | پوهنیار | پوهنمل | پوهندوي | پوهنوال | پوهاند | لیسانس | ماستر | دوکتور |
| ۱ | زراعت | ۱ | ۵ | ٦ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۷ | ۵ | ۰ |
| ۲ | تعلیم او تربیه | ۰ | ۷ | ۱ | ۱ | | | | ۷ | ۲ | |
| | | | | | | | | | د تحصیلي دورې په جریان کې | | |
| | | | | | | | | | | ۵ | ۲ |
| مجموع | | | | | | | | | ۲۱ | | |

د دې موسسې (۸) سلنه استادانو په دکتورا، (۲۱) سلنه په ماستری دورو کې د هیواد د ننه او بهر به زده کړو بوخت دي او متباقي (۷۱) سلنه استادان حضور لري چې د تدریس تر څنګ اداري مسئولیتونه هم پرغاړه لري(چې په ۱ شمېره دیاګرام کې ښودل کیږي).





*۱ شمېره ډیاګرام : وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د حضور او تحصیلي درجې په تفکیک سره.*

له اکادمیک تشکیل نه پرته دا تحصیلي موسسه په خپل جوړښت کې ۲۲ غیر اکادمیک اداري او خدماتي بستونه لري چې په ۲ شمیره ډیاګرام کې له جزئیاتو سره ښودل شوي دي.



*۲ شمېره ډیاګرام: د ۱۳۹۹ کال د بست په تفکیک سره غیر اکادمیک اداري تشکیلات*

یاده تحصیلي مؤسسه د ودانیو په برخه کې د ښوونې او روزنې پوهنځي ودانی ، زراعت پوهنځي ودانی ، او همدا رنګه د وردګو ولسونو په مرسته په یو پوړ کې جوړه شوې تدریسي ودانی، د څیړنیز مرکز ودانی او یو محراب مسجد هم شتون لري، چې د تدریسي بهیر تر څنګ پکې اداري کارونه او چارې هم پرمخ بېول کیږي.




۳ شمېره دیاګرام : د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې تشکیلاتي چارت.

## لاسته راوړنې :

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه په خپل تېر۷ کلن سیر کې یو شمېر لاسته راوړنې درلودلي دي، چې په لنډو کې ورته اشاره کیږي:

1. د ښوونې او روزنې پوهنځي د ودانی جوړیدل.
2. د کرنې پوهنځي د ودانی د ۷۰ سلنه کارونو بشپړوالی.
3. د وردګ ولسونو په مرسته د یو محراب مسجد جوړیدل.
4. د وردګ ولسونو په مرسته په یو پوړ کې د تدریسي بلاک جوړول.
5. د وردګ ولسونو په مرسته د احاطې د سنګ چین اویا سلنه بشپړوالی.
6. د پوهنتون د برق د ستونزې د حل په موخه لس کیلو واټه برېښنا برابرول.
7. د پوهنتون په داخل کې یو پل جوړول .
8. پوهنتون له نوري فایبر شبکې سره وصل کول.
9. د پوهنتون په چوکاټ کې د کرنې او ښوونې او روزنې پوهنځي اخیستل.
10. د ۲۰ پایې کمپیوټرونو په مټ یو ای سي ټي سنټر
11. دښوونې او روزنې پوهنځي لپاره یو لابراتوار اماده کول.
12. د پوهنتون په کچه د څیړنیز مرکز جوړیدل چې کار ۹۰ سلنه بشپړشوي دي.
13. د عمومي کتابتون له پاره په حدود د ۱۲۰۰۰ ټوکه کتابونه را ټولول.
14. ۲۰ پایې کمپیوټرونو مجهز کمپیوټر لب
15. ۵ عرادې موټرونه
16. د ۱۴۰۰ لمریز کال په جریان کې د ۳۰ پایې کمپیوټر لب د پروژې بشپړیدل.

17. د تضمین کیفیت د واحد جوړول.
18. د لس کیلو واټه لمریزې بریښنا سیستم فعال کول.
19. د ۲۰ پایې ٦٥ انچه LCD د پروژې بشپړیدل.
20. د پوهنتون د امنیت ، تدریسي او اداري چارو د نظارت په هدف ۸۰ دانو کامرو تهیه او نصب.
21. د دفتري تلیفونونو او الکترونیکي حاضري تهیه او نصب.
22. د پوهنتون په داخل کې په بیلابیلو برخو کې د ورکشاپونو دائریدل. لکه (OBE/SCL ، تضمین کیفیت او داسي نور)

د دې لاسته راوړنو سره، یو شمېر ستونزې او ننګونو سره هم مخ دی، چې په دې ډول ترینه یادونه کیدای شي

## وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې په علمي او اداري برخو کې موجوده ستونزې

### لمړی برخه : تشکیلات او پراختیا

1. د محصلینو او استادانو ترمنځ د نسبت د شاخص لوړوالی.
2. په ځینو برخو کې د مسلکي استادانو نه موجودیت.
3. د وردګو د لوړو زده کړو د مؤسسې عمر ته په کتو سره د نویو پوهنځیو او د پوهنځیو په چوکاټ کې د نویو څانګو نه ایجادیدل.
4. د موجوده لابراتوار لپاره د لابرانت نه شتون.
5. د کورنیو دولتي او غیر دولتي ادارو سره د اړیکو کم رنګ والی.
6. تشکیلاتي کمبود؛ په تشکیل کې د بستونو کموالی، د مقاماتو لړ پاملرنه، په وخت د تشکیلاتو نه لیږل.
7. د دندو د لوایحو په برخه کې د وضاحت نشتون او د دندو ټکر، چې په پایله کې یې وظیفوي تداخل او ځینې نورې ستونزې را منځته کیږي.
8. د استخدام په برخه کې کله نا کله بهرنۍ لاسوهنې.
9. د معاشاتو او اضافه کارۍ کمبود ، ترانسپورت او نورو مادي او صحي خدماتو نشتون .
10. اداري کارمندانو لپاره د سکالرشیفونو او فیلوشیفونو نشتون.
11. د ولایت په سطحه د سمینارونو یا د ورکشاپونو نه شتون یا کمبود. یا د هغه ورکشاپونو په برخه کې پوهنتون له پامه غورځول.
12. د مختلفو دیپارتمنتونو ترمنځ د همغږۍ کم رنګي.
13. د مجازاتو او مکافاتو اصل ته کمه پاملرنه.
14. د ځواب ویونکو پالیسیو او طرزالعملونو نشتوالی.

### دوهمه برخه : تجهیزات

1. په لازمو عصري وسایلو او تجهیزاتو د مجهزو معیاري لابراتوارونو نشتوالی.
2. د الکترونیکې وسایلو کمبود.
3. د معیاري کتابتون او په کتابتون کې د اکاډمیکو او مأخذ کتابونو کموالی.

4. د محصلینو شمیر ته په کتو د کمپیوټر لب کوچینوالی.

## دریمه برخه : تأسیسات او زیربناء

1. د پوهنتون لپاره د ماستر پلان نشتون.
2. د پوهنتون لپاره د احاطې دیوال نشتون.
3. دکرنې پوهنځي د عملي کارونو او څیړنود سرته رسولو په موخه د څیړنیز فارم، د خاورې، نبات، اوبو، فومولوژي لابراتوارونو او د علمي تحقیقاتو لپاره د بودیجې نه موجودیت.
4. د نارینه او ښځینه محصلینو لپاره د کافي امکاناتو او (لیلیې) نشتوالی.
5. د ځینو غاصبینو له خوا د پوهنتون د اراضي غصب.
6. د معیاري او کافي برق نشتون .
7. د پوهنتون د اداري چارو پرمخ بیولو لپاره د ځانګړي ودانۍ نه درلودل.
8. د باراني او سیلابي اوبو په واسطه د پوهنتون د ځمکې تخریب ، چې د ودانیو د تخریب احتمال هم شونی کوي.
9. په ودانیزو چارو کې د قراردادي شرکتونو لخوا تعلل او ځنډ .
10. د سپورتي لوبغالیو د رغونې او تجهیز لپاره د مالي امکاناتو نشتون.
11. د پوهنتون د صحن د زرغونتیا په برخه کې د مالي امکاناتو محدودیت.
12. د مالي مرستو ترلاسه کولو په موخه له مختلفو غیر دولتي بنسټونو او اداراتو سره په اړیکو کې ضعف.
13. د پوهنتون په دننه کې د خوړنځی (کفیټریا) نه شتون.
14. د صحي کلینک نه شتون.
15. د استادانو لپاره د کافي دفترونو نشتوالی. په پوره ډول د کریډیت د سیستم نه تطبیقول او په دې برخه کې د کافي امکاناتو نشتوالی.
16. د پوهنتون د انګړ او چاپیریال د سرسبزۍ لپاره د اوبو د یوې پراخه شبکې نه موجودیت.
17. د استادانو او اداري کارمندانو لپاره د استوګنې د مناسب ځای نه شتوالی.

### 1.4 لرلید

وردګ لوړو زده کړو مؤسسه هوډ لري، چې ټولنې ته د باکیفیته او معیاري خدمتونو وړاندې کولو له لارې د پوهې، تکنالوژۍ، څیړنو او نوښتونو په برخه کې په ملي او سیمه ییزه کچه مخکښه وي.

### 1.5 رسالت

وردګ لوړو زده کړو مؤسسه په خپل علمي او اکاډمیک بهیر کې د هیواد د نورو پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو ترڅنګ د متخصص کادرونو د روزلو مسؤلیت پر غاړه لري او د ټولنې د هوساینې او پرمختګ په موخه د معیاري زده کړو او با کیفیته خدمتونو په وړاندې کولو سره، د نن عصر د غوښتنو پر بنسټ کادرونه روزي.

### 1.6 ارزښتونه

- ✓ انصاف او عدالت

- ✓ په خدماتو کې کیفیت او د پروګرامونو طرحه کول
- ✓ علمي، مالي او اداري استقلالیت
- ✓ شفافیت او حساب ورکونه
- ✓ صداقت او ملي ارزښتونو ته درناوی
- ✓ هڅه، خلاقیت او ابتکار

### 1.7 وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتژیک اهداف

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه په راتلونکو پنځو کلونو کې غواړي لاندې اهدافو ته ځان ورسوي:

- د مالي او علمي استقلالیت درلودلو، سیستماتیک نظارت، او فساد پر وړاندې د مبارزې له لارې د ښې حکومتولۍلپاره د رهبري پروګرامونه تقویت کول.
- د کادري او اداري پرسونل ظرفیت لوړاوي، او درسي موادو پراختیا ،پرمختګ، د تضمین کیفیت اعتبار ترلاسه کولو له لارې د ورځې، داخل خدمت او شپې۲۵ علمي پروګرامونو رامینځته کول.
- د معیاري زده کړو په موخه د لازمو تحصیلي، فرهنګي، ورزشي سهولتونو رامینځته کول.
- د ماستر پلان جوړولو له لارې د احاطې دیوال، تدریسي او اداري تعمیرونو، لابراتوارونو، کتابخانې، ورزشي او شنې ساحې جوړول.

### 1.8 تحلیل او تجزیه(SWOT)

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې لخوا توظیف شوي کاري ټیم دیوسلسله مطالعاتو او مباحثو په پایله کې په لاندې ډول هغه موارد لیست او تشخیص کړل کوم چې د یادې  مؤسسې په فعالیتونو اغیز درلودلی شي.

**د قوت نقطې ( strength )**

1. د مسلکي او نسبتاً مجربو استادانو شتون.
2. د کیمیا په برخه کې د لابراتوار او د پوهنتون په کچه د کتابخانې او معلوماتي تکنالوژي شتون.
3. د درسی کیفیت په برخه کې د لوړو زده کړو د قوانینو او مقرراتو پلي کول.
4. له ۱۱ دولتي پوهنتونونو سره د همکارۍ د لاسلیک شوو تفاهم لیکونو درلودل.
5. د نورو تحصیلي مؤسسو سره د سالم رقابت د روحیې موجودیت.
6. د راتلونکو زیربنایي تأسیساتو د ودانولو لپاره په کافي اندازه د ځمکې موجودیت.
7. د نویو پوهنځیو د ایجاد په برخه کې د نسبي توجه شتون.

**د ضعف نقطې ( Weakness )**

1. د پوهنتون په چوکاټ کې د پوهنځیو او په پوهنځیو کې د څانګو کمبود.
2. د مشخصو او کارنده پالیسیو نه شتون.
3. په بیلابیلو برخو کې د مجهزو لابراتوارونو، کمپیوټر لب او د عصر د غوښتنو سره سم د کتابتون نه شتون.
4. د کرنې پوهنځی له پاره د تحقیقاتي فارم نشتون.
5. معتبرو نړیوالو علمي ژورنالونو او علمي ویب سایټونو ته نه لاس رسی.

6. د څېړنې لپاره د پروګرام نه شتون.
7. د نسبي بوروکراسۍ موجودیت.
8. د ښځینه محصلینو د جذب لپاره د امکاناتو ( لکه لیلیه، ترانسپورت ...) نه شتون.
9. د اوبو او برق د خدماتو محدودیت.
10. د کادري، اداري او خدماتي تشکیل کمبود.
11. د پوهنتون د استادانو او اداري کارمندانو معیشت او سوکالۍ ته نه پاملرنه.
12. د اداري او خدماتي کارکونکو ټيټ امتیازات.
13. د پوهنتون د احاطې دیوال نشتوالی.
14. د ماسټر پلان نشتون.

**فرصتونه ( Opportunity )**

1. له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا.
2. د لوړو زده کړو د مؤسسې د پرمختګ لپاره د تجارانو او ولسي خلکو دلچسپي.
3. د پوهنتون سره د مرستې په برخه د نړدي پوهنتونو د علمي کادرونو لیوالتیا.
4. د ظرفیت لوړونې، تعمیر او تجهیز په برخه کې د ډونرانو مرستې.
5. د لیسانس کچې ته د دوولسم پاس او څوارلسم پاسو معلمینو د ارتقا غوښتنه.
6. د ملي او خصوصي سکتور له خوا د مسلکي او کاري ځواک د جذبولو لیوالتیا.
7. د نوې علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره د ظرفیت شتون.

**تهدیدونه ( Threats )**

1. د کانکور له طریقه د با استعداده محصلینو نه معرفي کیدل.
2. د پوهنتون څخه د فارغیدونکو محصلینو له پاره د کارموندنې پروسه ډېره کمزورې ده، چې په لوړ اکثریت فارغان یې بې دندې پاتې کیږي.
3. د محصلینو لپاره د کاراموزۍ فرصت نه موجودیت.
4. د پوهنتون د اړتیاوو په پرتله د لوړو زده کړو وزارت لخوا د بودیجې په برخه کې د کم تخصیص ورکول.
5. د ځینو پټوکړیو له خوا د ښونیزو او روزنیزو پرګرامونو دکم کیفیته ښودلو له پاره منفي تبلیغات.
6. د پوهنتون د ساحې څخه د لوړ ولتاژ لرونکو برښنایي مزو تیریدل.
7. د پوهنتون د ساحې په ختیزه برخه کې د پوهنتون دځمکې غصب او امنیتي پوستې موجودیت.
8. د پوهنتون په نژدي ساحه کې د ښاري خدماتو نه شتون.
9. په علمي برخه کې د خلکو د عامه پوهاوي کموالی.
10. د خلکو خراب اقتصادی وضیعت.

### 1.8.1 د داخلي لاملونو تحليل

**پوښتنپاڼه :** د داخلي او خارجي وضعیت اړوند د معلوماتو دراټولولو په موخه له پورته ذکر شویو عواملو څخه یاد کاري ټیم لخوا پوښتنپاڼې طرحه او ترتیب کړل شوې. د داخلي وضعیت تحلیل لپاره ۲۳ واحد لرونکې پوښتنپاڼه او د خارجي وضعیت تحلیل او ارزونې لپاره ۱۸ واحد درلودونکې پوښنپاڼه، د ۵ کالم درلودونکې؛ چې لومړئ کالم د واحد شمېرې ته، دوهم کالم د پوښتنپاڼې واحدونو، دریم کالم ضریب (چې د ټولو ضرایبو مجموعه له ۱۰۰ تجاوز نکوي)، څلورم کالم رتبې (۴-۳ یا هم ۲-۱)، او پنځم کالم نمرې ته ځانګړي شوي دي ( ۱ شمېره ضمیمه ).

پورته ذکر شوې پوښتنپاڼې وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې داخل کې (رهبری غړو، آمرینو، استادانو، او مدیرانو ته)، او له مؤسسې څخه د باندې ( پخوانیو رییسانو، او نورو برخو کسانو ته ) توزیع او له ډکولو وروسته را ټولې کړی شوې دي.

له بده مرغه، کومو کسانو ته چې پوښتنپاڼې توزیع شوي، یو شمیر کسانو سره د دلچسپی بیا هم پوښتنپاڼې تکمیل نکړې. سره لدې په دغه سروې کې اته کسانو برخه اخیستې، چې ټول یې تحصیل یافته او وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې او سیمې اړوند د پوهې خاوندان دي.

دپوښتنپاڼو اړوند معلومات چې دکاري ټیم له خوا راټول شوي دی په لاندې جدول کې ښودل کیږي .

## جدول 2: داخلي لاملونو اړوند ډیټا تحلیل

| شمېره | داخلي عوامل (قوتونه او ضعفونه) | وزني ضریب | وزني امتیاز | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د مسلکي او نسبتاً مجربو استادانو شتون. | 0.06 | 3 | 0.18 |
| ۲ | د کیمیا په برخه کې د لابراتوار او د پوهنتون په کچه د کتابخانې او معلوماتي تکنالوژي شتون. | 0.08 | 3 | 0.24 |
| ۳ | د درسی کیفیت په برخه کې د لوړو زده کړو د قوانینو او مقرراتو پلي کېدل. | 0.08 | 3 | 0.24 |
| ۴ | د ښوونې او روزنې له پوهنتون سره د همکارۍ د لاسلیک شوي تفاهم لیک درلودل. | 0.07 | 3 | 0.21 |
| ۵ | د نورو تحصیلي مؤسسو سره د سالم رقابت د روحیې موجودیت. | 0.08 | 3 | 0.24 |
| ٦ | د راتلونکو زیربنایي تأسیساتو د ودانولو لپاره په کافي اندازه د ځمکي موجودیت. | 0.06 | 3 | 0.18 |
| ۷ | د نویو پوهنځیو د ایجاد په برخه د نسبي توجه شتون. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۸ | د پوهنتون په چوکاټ کې د پوهنځیو او په پوهنځیو کې د څانګو کمبود. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۹ | د مشخصو او کارنده پالیسیو نه شتون. | 0.03 | 2 | 0.06 |
| ۱۰ | په بیلابیلو برخو کې د مجهزو لابراتوارونو، کمپیوټر لب او د عصر د غوښتنو سره سم د کتابتون نه شتون. | 0.02 | 2 | 0.04 |
| ۱۱ | د کرنې پوهنځی له پاره د تحقیقاتي فارم نشتون. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۲ | معتبرو نړیوالو علمي ژورنالونو او علمي ویب سایټونو ته نه لاس رسی. | 0.03 | 2 | 0.06 |
| ۱۳ | د څیړني لپاره د پروګرام نه شتون. | 0.03 | 2 | 0.06 |
| ۱۴ | د نسبي بوروکراسۍ موجودیت. | 0.03 | 2 | 0.06 |
| ۱۵ | د ښځینه محصلینو د جذب لپاره د امکاناتو ( لکه لیلیه، ترانسپورت ...) نه شتون. | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۱٦ | د اوبو او برق د خدماتو محدودیت. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۷ | د کادري، اداري او خدماتي تشکیل کمبود. | 0.03 | 2 | 0.06 |
| ۱۸ | د پوهنتون د استادانو او اداري کارمندانو معیشت او سوکالۍ ته کمه پاملرنه. | 0.04 | 2 | 0.08 |
| ۱۹ | د اداري او خدماتي کارکونکو ټیټ امتیازات. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۲۰ | د پوهنتون د احاطې دیوال نشتوالی. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۲۱ | د ماسټر پلان نشتون. | 0.06 | 2 | 0.12 |
| **مجموعه** | | **1** | | **2.54** |

د یادونې وړ ده، کوم ارقام چې دلته راوړل شوي فکس ندي، ځکه چې د حسابي عملیو په سرته رسولو سره د عشاري ارقامو په پایله کې بدلون راځي.

### 1.8.2 د خارجي لاملونو تحليل

جدول 3: د خارجي لاملونو اړوند ډیټا تحلیل

| شمېره | بیروني عوامل (فرصتونه او تهدیدونه) | ضریب | امتیاز | نمره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۲ | د لوړو زده کړو د مؤسسې د پرمختګ لپاره د تجارانو او ولسي خلکو دلچسپي. | 0.04 | 3 | 0.12 |
| ۳ | د پوهنتون سره د مرستې په برخه کې د نږدې پوهنتونو د علمي کادرونو لیوالتیا. | 0.06 | 3 | 0.18 |
| ۴ | د ظرفیت لوړوني، تعمیر او تجهیز په برخه کې د ډونرانو مرستې. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۵ | د لیسانس کچې ته د څوارلسم پاسو معلمینو ارتقا (د رییس جمهور ۲۵۹۶ گڼه حکم تطبیق). | 0.04 | 3 | 0.12 |
| ٦ | د ملي او خصوصي سکتور له خوا د مسلکي او کاري ځواک د جذبولو لیوالتیا. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ٧ | نوې علمي تکنالوژۍ ته د لاسرسي امکانات. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ٨ | د کانکور له طریقه د با استعداده محصلینو نه معرفي کیدل. | 0.06 | 2 | 0.12 |
| ٩ | له پوهنتون څخه د فارغیدونکو محصلینو له پاره د کارموندنې پروسه ډېره کمزورې ده، چې په لوړ اکثریت فارغان یې بې دندې پاتې کیږي. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۰ | د محصلینو لپاره د کاراموزۍ فرصت نه موجودیت. | 0.06 | 2 | 0.12 |
| ۱۱ | د پوهنتون د اړتیاوو په پرتله د لوړو زده کړو وزارت لخوا د بودیجې په برخه کې د کم تخصیص ورکول. | 0.06 | 2 | 0.12 |
| ۱۲ | د ځینو پټو کړیو له خوا د ښونیزو او روزنیزو پرګرامونو د کم کیفیته ښودلو په پار منفي تبلیغات. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۳ | د پوهنتون د ساحې څخه د لوړ ولتاژ لرونکو برښنایې مزو تیریدل. | 0.08 | 1 | 0.08 |
| ۱۴ | د پوهنتون د ساحې په ختیزه برخه کې د تیلو د پمپ ستیشن او امنیتي پوستې موجودیت. | 0.08 | 1 | 0.08 |
| ۱۵ | د پوهنتون په نژدې ساحه کې د ښاري خدماتو نه شتون. | 0.06 | 2 | 0.12 |
| ۱٦ | په علمي برخه کې د خلکو د عامه پوهاوي کموالی. | 0.08 | 2 | 0.16 |
| ۱٧ | د خلکو خراب اقتصادی وضیعت. | 0.08 | 2 | 0.16 |
| **مجموعه** | | **1** | | **2.18** |

د پورته ذکر شویو قوت نکاتو او فرصتونو څخه په استفادې سره هڅه کیږي چې ضعفونه له منځه یوړل شي او تهدیدات دفع کړای شي،چې په ۳ شمیره جدول کې په ګوته شوي دي.

جدول 4 : د سوات ماتریکس SWOT پواسطه تحلیل او تجزیه


| | **قوتونه (S)** | **ضعفونه (W)** |
|---|---|---|
| **داخلي عوامل**<br><br>**خارجي عوامل** | 1. د مسلکي او نسبتاً مجربو استادانو شتون.<br>2. د کیمیا په برخه کې د لابراتوار او د پوهنتون په کچه د کتابخانې او معلوماتي تکنالوژي شتون.<br>3. د درسی کیفیت په برخه کې د لوړو زده کړو د قوانینو او مقرراتو پلي کول.<br>4. له ۱۱ دولتي پوهنتونونو سره د همکارۍ د لاسلیک شوو تفاهم لیکونو درلودل.<br>5. د نورو تحصیلي مؤسسو سره د سالم رقابت د روحیې موجودیت.<br>6. د راتلونکو زیربنایې تأسیساتو د ودانولو لپاره په کافي اندازه د ځمکې موجودیت.<br>7. د نویو پوهنځیو د ایجاد په برخه کې د نسبي توجه شتون. | 1. د پوهنتون په چوکاټ کې د پوهنځیو او په پوهنځیو کې د څانګو کمبود.<br>2. د مشخصو او کارنده پالیسیو نه شتون.<br>3. په بیلابیلو برخو کې د مجهزو لابراتوارونو، کمپیوټر لب او د عصر د غوښتنو سره سم د کتابتون نه شتون.<br>4. د کرنې پوهنځی له پاره د تحقیقاتي فارم نشتون.<br>5. معتبرو نړیوالو علمي ژورنالونو او علمي ویب سایټونو ته نه لاس رسی.<br>6. د څیړني لپاره د پروګرام نه شتون.<br>7. د نسبي بوروکراسی موجودیت.<br>8. د ښځینه محصلینو د جذب لپاره د امکاناتو ( لکه لیلیه، ترانسپورت ...) نه شتون.<br>9. د اوبو او برق د خدماتو محدودیت.<br>10. د کادري، اداري او خدماتي تشکیل کمبود.<br>11. د پوهنتون د استادانو او اداري کارمندانو معیشت او سوکالي ته نه پاملرنه.<br>12. د اداري او خدماتي کارکونکو ټیټ امتیازات.<br>13. د پوهنتون د احاطې دیوال نشتوالی.<br>14. د ماستر پلان نشتون. |
| **فرصتونه (O)**<br>1. له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا.<br>2. د لوړو زده کړو د مؤسسې د پرمختګ لپاره د تجارانو او ولسي خلکو دلچسپي.<br>3. د پوهنتون سره د مرستې په برخه د نږدي پوهنتونو د علمي کادرونو لیوالتیا. | له (S1) څخه په استفادې سره (O1) او (O3) ته لاسرسی مومو.<br>له (S2) څخه په استفادې سره ځانونه (O1) او (O7) ته رسولی شو<br>له (S3) څخه په ګټه اخیستنې سره کولای شو (O5) ته ورسیږو. | له (O2)، (O3)، (O4) او (O5) څخه په ګټه اخیستنې سره (W1) له منځه وړ کیدی شي.<br>له (O2)، (O4) او (O7) په کارولو سره (W3) رفع کیدای شي.<br>له (O4) څخه په استفادې سره (W4) له منځه وړلی شوو.<br>د (O4) په کارولو سره (W9) رفع کیږي. |

| | | |
|---|---|---|
| 4. د ظرفیت لوړوني، تعمیر او تجهیز په برخه کې د ډونرانو مرستې.<br>5. د لیسانس کچې ته د دوولسم پاس او څوارلسم پاسو معلمینو د ارتقا غوښتنه.<br>6. د ملي او خصوصي سکتور له خوا د مسلکي او کاري ځواک د جذبولو لیوالتیا.<br>7. د نوې علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره د ظرفیت شتون. | له (S5) څخه په کار اخیستلو سره کیدای شي (O2)، (O4)، او (O6) تر لاسه شي. | د (O2) او (O4) څخه په ګټه اخیستنې سره (W8) او (W14) رفع کیدای شي. |
| **تهدیدونه (T)**<br>1. د کانکور له طریقه د با استعداده محصلینو نه معرفي کیدل.<br>2. د پوهنتون څخه د فارغیدونکو محصلینو له پاره د کارموندنې پروسه ډېره کمزورې ده، چې په لوړ اکثریت فارغان يې بې دندې پاتې کیږي.<br>3. د محصلینو لپاره د کارموندنې فرصت نه موجودیت.<br>4. د پوهنتون د اړتیاوو په پرتله د لوړو زده کړو وزارت لخوا د بودیجې په برخه کې د کم تخصیص ورکول.<br>5. د ځینو پټوکړیو له خوا د ښونیزو او روزنیزو پرګرامونو دکم کیفیته ښودلو له پاره منفي تبلیغات.<br>6. د پوهنتون د ساحې څخه د لوړ ولتاژ لرونکو برښنایې مزو تیریدل.<br>7. د پوهنتون د ساحې په ختیزه برخه کې د تیلو د پمپ استیشن او امنیتي پوستې موجودیت.<br>8. د پوهنتون په نژدې ساحه کې د ښاري خدماتو نه شتون.<br>9. په علمي برخه کې د خلکو د عامه پوهاوي کموالی.<br>10. د خلکو خراب اقتصادی وضیعت. | د (S2)، (S3)، (S5) او (S7) په کارولو سره (T1) دفع کیدی شي.<br>له (S3) په څخه په کار اخیستنې (T4) له منځه تللی شي.<br>له (S3)، (S5) او (S7) څخه په ګټه اخستنې سره (T5) رفع کیدی شي.<br>د (S1) په ذریعه (T10) دفع کیدای شي. | د (W8) په وسیله (T5) دفع کیدی شي.<br>د (W12) په کارولو سره (T4) دفع کیدی شي. |

**1.9 وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتژيک موقعيت**


د داخلي او خارجي وضعيت اړوند کومې پوښتنپاڼې چې د خبره کسانو لخوا ډکې شوي پر مټ د امتيازاتو د محاسبې په وسيله د ورد ګ لوړو زده کړو مؤسسې ستراتيژيک موقعيت ټاکل شوی او په لاندې ډياګرام کې ښودل کيږي.

د داخلي او خارجي فکتورونو په نه خونو ميټرکس کې که چيرې د نمرو له مخې، د پوهنتون موقعيت په III، VI، II خونو کې ځاى په ځاى شي نو دا د پوهنتون وده او پرمختګ ځرګندوي. او که دا په IX, V, I خونو کې ځاى پرځاى شي، دا د پوهنتون د ساتنې او ثبات ستراتيژيو استازيتوب کوي. او که چيرې دا د IIX, VII, IV په خونو کې ځاى پرځاى شي، دا د دفاعي او کمولو ستراتيژيو ته اشاره کوي. نو د وردګ پوهنتون ستراتيژيک موقعيت د اخيستل شوو نمرو له مخې په V خونه کې موقعيت لري چې د ساتنې او ثبات حالت ځرګندوي.




**1.10 وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتژيک حالت**

د داخلي او خارجي وضعيت اړوند کومې پوښتنپاڼې چې د خبره کسانو لخوا ډکې شوي پر مټ د امتيازاتو د محاسبې په وسيله د ورد ګ لوړو زده کړو مؤسسې ستراتيژيک حالت ټاکل شوی او په لاندې ډياګرام کې ښودل کيږي. نو د وردګ لوړو زده کړو موسسې ستراتيژيک حالت د اخيستل شوو نمرو له مخې په څلورمه خونه کې موقعيت لري چې د رقابتي حالت ځرګندوي.




### 1.11 وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې ستراتیژي ګاني

دا چې وردګ لوړو زده کړو مؤسسه د داخلي او خارجي عواملو ارزوني ماتریکس پر بنسټ په (رقابتي) ساحه کې قرار لري، د یاد مؤسسې موخې او مقاصد په کلي او فرعي سطحو کې په لاندې توګه معرفي کیږي.

#### 1.11.1 ښه حکومتولي

وردګ لوړو زده کړو مؤسسې اداري جوړښت د رهبری په رأس کې د پوهنتون رئیس، د علمي او محصلانو چارو مرستیال او د اداري چارو مرستیال قرار لري. د دې تر څنګ یاده تحصیلي مؤسسه، د کرنې او ښوونې او روزنې پوهنځیو په چوکاټ کې د دوه ، دوه څانګو لرونکې ده چې د یادې تحصیلي مؤسسې د رئیس، علمي او محصلانو چارو مرستیال، پوهنځیو د رئیسانو او د څانګو دآمرینو لخوا اداره کیږي. همدارنګه، یادي تحصیلي مؤسسې مختلفې کمېټې لکه (د پلان او پالیسی کمیته ، فرهنګي او چاپېریال ساتنې کمیته ، نظم ، ډسپلین اوشکایاتو د اوریدلو کمیته، ازموینو کمیته، څېړنو کمیته، سپورت کمیته، بریښنائی زده کړو کمیته، نصاب کمیته، تضمین کیفیت کمیته او مالی اداري او د فساد پر وړاندې د مبارزې کمیته ) چې څانګړې کاري لایحې لري، رامنځته کړي دي. ترڅو د مؤسسې اړونده چارې په معیاري او اکاډمیکه توګه پر مخ یوسي. د موسسې، پوهنځی، څانګو او د کمېټو د کارونو د ښه پرمختګ په موخه د مؤسسې مرستیال، د پوهنځی رییس او د کمېټو مسؤلین په دوامداره توګه څارنه کوي، څو یقیني کړي، چې اړونده چارې په اغېزمن ډول پرمخ رواني دي. د موسسې ریاست په پام کې لري چې د لا اغېزمنتیا په پار نورې لازمې کړنې هم ترسره کړي، نوتل دا بهیر څاري.

##### 1.11.1.1 رهبری پرګرامونه

د وردګو لوړو زده کړو مؤسسې رئیس، مرستیالان، د پوهنځیو رئیسان، د څانګو آمرین او نور اړوند مسؤلین د دندو د ښه ترسره کولو وړتیاوې لري. د مؤسسې مشرتابه د رهبری ظرفیت لوړونې په موخه تل هڅې کوي، چې

د اداري کاروونکو لپاره د ظرفیت لوړونې مدیریت رامنځته کړي ترڅو ښه اداري روزنه ووینې. د دې ترڅنګ، د مؤسسې مشرتابه د بیلابیلو مرستندویه بنسټونو سره په همغږۍ هڅه کوي چې د محصلینو لپاره بېلابېل روزنیز ټریننګونه، کورسونه او ورکشاپونه دایر کړي چې د محصیلینو وړتیاوې لوړې کړي. همدارنګه، د مؤسسې مشرتابه د استادانو ظرفیت لوړونې په موخه هم هڅه کوي چې د مختلفو کمېټو له لارې ډول ډول موثر روزنیز کورسونه او ورکشاپونه دایر کړي. سربېره پر دې، د مؤسسې مشرتابه تل هڅه کړې چې د لوړو زده کړو د پیاوړتیا پروګرام (HEDP) څخه په اغېزمنه توګه د استادانو د ظرفیت جوړونې په برخه کې ګټه پورته کړي. د مؤسسې مشرتابه ټول استادان او مسؤلین تشویقوي څو په ملي او نړیوالو روزنیزو پروګرامونو کې فعاله ونډه واخلي او تر راتګ وروسته خپلې تجربې له خپلو همکارانو سره شریکې کړي. د یادې پروسې د څارنې او اغېزمنتیا په موخه د مؤسسې اداره د څارنې ځانګړي میکانیزمونه لري ترڅو باوري کړي، چې د مؤسسې ټول علمي او اداري کارکوونکي او محصیلین په اغېزمنه توګه د یادو پروګرامونو څخه ګټه پورته کوي.

#### 1.11.1.2 مالي ، اداري او علمي استقلالیت

دا چې مالي، اداري او علمي استقلالیت د روزنیزو اداراتو اصل تشکلیلوي. د یادو چارو په برخه کې لوړو زده کړو وزارت او وردګ لوړو زده کړو مؤسسه تل هڅه کوي چې اغېزمن مدیریت ترسره کړي.د لوړو زده کړو وزارت د وزارت په کچه د پوهنتونونو د مالي خپلواکۍ پالیسي، چې د لوړو زده کړو وزارت په عالي شورا کې تائید شو ې ده، په نږدې راتلونکي کې، په دولتي پوهنتونونو کې عملي کوي. د دغې مقررې پر بنسټ به پوهنتونونه وکولای شي د عایداتو امکانات تر لاسه کړي او په خپلواکه توګه بودیجه جوړه او مصرف کړي.

#### 1.11.1.3 د مالي خپلواکۍ تر لاسه کول

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه هوډ لري چې په علمي، اداري او فزیکي برخه کې پراختیا ومومي چې په راتلونکي کې د یو پرمختللي پوهنتون په توګه وکولای شي په فوق العاده توګه خپل خدمات وړاندې کړي. اړینه ده چې د لاندې چارو د ترسره کولو لپاره په خپله بودیجه کې په دوامداره توګه زیاتوالی رامنځته کړي، چې دې موخې ته د رسېدو په پار لاندې کړنې ترسره کوي:

1. شپې برنامو ایجادول
2. د اړوند ملي شرکاوو ( Stakeholders ) سره ګډې څېړنې
3. د پوهنتون د اړونده نقلیه وسایطو لپاره تمځایونه جوړول
4. د لابراتوارونو پراختیا او تجهیز
5. د با کیفیته کفېټریا بنسټ اېښودل
6. د لیلیو ودانیو او اسانتیاوو برابرول.
7. د یو مرکزي څېړنیز مرکز ایجادول
8. د څېړنیز فارمونو جوړول او پیاوړتیا.
9. لنډ مهاله مسلکي روزنیز کورسونه رامنځته کول
10. د بهرنیو مرستو د جلب لپاره معیاري پروپوزلونو ترتیبول
11. د صحی کلینک جوړول.

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه به د علمي استقلالیت په لرلو سره لاندې موخې ترلاسه کړي :

1. د وخت، سیمې او شکېلو خواوو د غوښتنو او اړتیا سره سم په ښوونیز نصاب کې مثبت بدلون رامنځته کول
2. د زده کړو په برخه کې د عصري مېتودونو پلي کول
3. له ملي اعتبار ورکوونکو ادارو څخه اعتبار تر لاسه کول او په دوامداره توګه یې ساتل
4. د کتابتونونو او کتابونو چاپ چارو ته زمینه برابرول.
5. د تدریس د نویو میتودونو د ترلاسه کولو په موخه په ملي کچه د ټرېننګونو برابرول او برخه پکې اخستل
6. د برېښنايي زده کړو د عاملو په موخه د اړینو پروګرامونو پلان او پلي کول
7. د پوهنځیو د مسلکي او تخنیکي عملي پروګرامونو او پروژو په برابرولو کې رغنده ګامونه پورته کول

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه به د اداري استقلالیت په لرلو سره لاندې موخې ترلاسه کړي :

1. د نویو علمي پروګرامونو ایجاد او د تشکیل زیاتوالی
2. د دفتري چارو او اداري سیستم نوي کول
3. د معالوماتو او ارقامو د خوندي پاتې کېدو په موخه ډېټابېس رامنځته کول
4. د شته اداري او خدماتي کارکوونکو زیاتول.

#### 1.11.1.4 د فساد پر وړاندې د مبارزه

دا چې فساد یوه شومه پدیده ده او د پرمختګونو د مخنیوي لامل ګرځي، وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کې لري چې د خپلو اړوندو چارو په برخه کې د هر ډول فساد مخنیوي په موخه لاندې کړنې ترسره کړي :

1. د اداري فساد مخنیوي اړوند ټولنیز پوهاوی.
2. د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې د مقرراتو، لوایحو او قوانینو پلي کول او څارنه.
3. په تحصیلي مؤسسه کې د فساد اړوند مواردو معلومول او ورته حل لارې پیداکول.
4. د تحصیلي مؤسسې ټولو برخو څخه څارنه.
5. د مجازاتو او مکافاتو د اصل رایجول او پلي کول.
6. دفتري چارې له انالوګ څخه ډیجیټل سیستم ته اړول.
7. د هر ډول غیر قانوني کړنو مخنیوی کول.

### 1.11.1.5 نظارت او ارزونې تقویت

څارنه او ارزونه د اداري چارو د ښه ترسراوي لپاره د مدیریت څلورم اصل دی، چې له مخې یې له یوې خوا د تېروتنو او اشتباهاتو مخنیوی کېږي او له بلې خوا ډاډ ترلاسه کېږي، چې چارې په معیاري ډول له پلان سره سمې پر مخ روانې دي. په همدې اساس، څارنه او ارزونه د شفافیت رامنځته کولو او ستونزو د لمنځه وړلو لپاره مهمه کړنه شمېرل کیږي او د چارو د پراختیا او پرمختګ سبب ګرځي. وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه له پلان سره سم د خپلو چارو ترسراوي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه په دوامداره توګه د څارنې او ارزونې په برخه کې لاندې کړنې ترسره کوي :

1. د رهبرۍ په کچه د چارو څخه لیدنه او تېروتنو د مخنیوي او سمون په موخه لازمې پرېکړې کول.
2. د اداري کړنو په هکله له پوره دقت څخه کار اخیستل.
3. د علمي او اکاډمیکو چارو د ګړندیتوب لپاره له اوږدو پروسو ډډه کول.
4. د څارنې او ارزونې لپاره د ځانګړو کمېټو رامنځته کول.

### 1.11.1.6 تفاهم لیکونه او تواميتونه

د تفاهم لیکونو درلودل او د اړیکو پراختیا د تجربو شریکولو، ظرفیتونو لوړولو او مرستو په جلب کې د پوهنتونونو سره ډېره مرسته کولی شي. وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې تر اوسه له ۱۰پوهنتونو (البیرونی ، غزنی ،کندز ، بامیان ، لغمان، جوزجان ، سیدجمال الدین افغانی، هلمند ، پکتیکا او د کابل ښوونې او روزنې پوهنتونونو تر منځ تفاهم لیکونه لاسلیک شوي دي، چې یادې تحصیلي مؤسسې ته خورا ګټور تمام شوي دي او د یادې تحصیلي مؤسسې د چارو په سمون او پرمختګ کې د پام وړ رول اداء کړی دی. یاده تحصیلي مؤسسه په راتلونکو پنځو کلونو کې د شته اړیکو او تفاهم لیکونو د ساتلو او نورو اړیکو او تفاهم لیکونو لاسلیک کولو لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د بهرنیو اړیکو او مرستو د جلب لپاره پوهنتون شموله کمېټه ایجادول.
2. په یاده کمېټه کې په ملي کچه د تجربو لرونکو او ژمنو کادري غړیو ځای پر ځای کول.
3. یادې کمیټه ته پالیسي او اړوند ټول اداري اسناد چمتو کول.
4. د یادې کمېټې چارو ته پوره پاملرنه او پراختیا ورکول.
5. د یادې کمېټې پر هڅو د امکان تر حده د سیمه ییزو پوهنتونونو او ادارو څخه دتفاهم لیکونو له مخې د مرستو جلبول

### 1.11.1.7 مرستو جلبول

په اوسني عصر کې هیڅ یوه اداره نشي کولی په یواځې ځان خپلې ټولې چارې په ښه ډول ترسره او خپلو موخو ته ورسېږي. نو بناً ټولې اداري اړ دي چې د خپلو چارو د ترسره کولو په برخه کې داخلي او بهرنۍ همکارۍ او مرستې ترلاسه کړي. وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه هم د خپلو چارو د ښه ترسراوي او پرمختګ

لپاره کورنیو او بهرنیو مرستو ته اړتیا لري، چې د ترلاسه کولو په موخه یې لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کوي:

1. د مرستو د جلب او د اړیکو د ټینګولو کمېټو ته پراختیا ورکول.
2. له اړونده ملي ادارو سره تفاهم لیکونه لاسلیکول او حد اکثر ګټه ترې پورته کول.
3. کمېټو ته د اړونده چارو د ترسراوي لپاره د پلانونو او پالیسیو ترتیب او تهیه کول
4. د د لاسلیک شویو تفاهم لیکونو او اړیکو څخه د یادې تحصیلي مؤسسې په هر اړخیز پرمختګ کې موثره ګټه پورته کول.
5. په ملي کچه له پوهنتونونو سره په علمي چارو کې د همغږیو او فرصتونو زمینه برابرول.
6. د تحصیلي مؤسسې د فزیکي او معنوي جوړښت او پرمختګ په موخه د حقیقي او حکمي اشخاصو څخه معنوي او مادي مرستو جلبول

#### 1.11.2 علمي څېړنې او پرګرامونه

د پوهنتونونو او علمي بنسټونو اصلي دنده د علمي کړنو ترسره کول دي. په همدې اساس، وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه په پام کې لري چې د یو با کیفیته او پرمختللي پوهنتون په توګه بېلابېل ساینسي، ټولنیز او څېړنیز پروګرامونه پر مخ یوسي چې له امله یې په هېواد او نړۍ کې د انساني ژوند په ښه والي او پرمختګ کې پوره ونډه درلودلې وي. په دې لړ کې دا تحصیلي مؤسسه د علمي او اکاډمیکو پروګرامونو د پیاوړتیا لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

##### 1.11.2.1 د علمي او سیال کادري استادانو تشکیلاتي پراختیا

دا چې وردګ د لوړو زده کړو موسسه د لوړو زده کړو وزارت قانون او مقرراتو سره سم په بېلا بېلو علمي، مسلکي او تخصصي برخو کې ټولنې او سیمې ته وړ کادرونه روزي، نو تل هڅه کوي چې د مسلکي او وړ کادرونو په جذبولو کې لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

1. د لوړو زده کړو وزارت قانون د تقرر شرایطو په رڼا کې داسې اشخاص په کادر کې جذبول چې اکاډمیکو ارزښتونو ته ژمن وي.
2. د مسلک او تخصص په پام کې نیولو سره د پیاوړو او مناسبو اشخاصو ګمارل.
3. په تقرر کې وړ – لوړې تحصیلي درجې لرونکي شخص ته لومړیتوب ورکول.
4. په کادر کې د شمولیت لپاره د شفافي پروسې رامنځته کول.
5. د لوړې سویې او لایقو استادانو او غړو ساتنه او له وړتیاوو یې پوره ګټه اخستل.
6. د موجوده علمي کادرونو ظرفیت ته وده او پراختیا ورکول.

##### 1.11.2.2 د کادري پرسونل د ظرفیت لوړونه

د پوهنتونونو او علمي موسساتو د هر اړخیز پرمختګ یو مهم لامل د اړوندو ادارو بشري ځواک او کار کوونکي ګڼل کېږي. کار کوونکي د مربوطه ادارو د رهبرۍ چارې په ښه ډول ترسره کوي او هم ورته د اهدافو تحقق لپاره بېلابېلې مادي او معنوي سرچینې رامنځته او ورڅخه پرځای ګټه پورته کوي. پر همدې اساس، وردګ د لوړو زده کړو موسسه د پرمختګ او پراختیا لپاره په پام کې لري چې د علمي او اداري کاري ځواک د ظرفیت د کچې د لوړولو په پار لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کړي :

1. د علمي کادر غړو ته په ماستری او دوکتورا پروگرامونو کې د زده کړو زمینه برابرول.
2. د شته مسلکي او منلو کادرونو څخه په پرمختيايي او روزنيزو چارو کې گټه پورته کول.
3. پوهنتوني پرسونل ته د نویو اړتیاوو د پېژندنې په اړه د داخلي روزنو او ټرینگونو فرصتونو برابرول.
4. د منلو کادرونو، استادانو او غړو ساتنه.
5. د پوهنځیو رییسان او د مختلفو څانگو مسؤلین د غوره او پیاوړې اداري ستراتیژۍ طرحه کولو لپاره رهبري کول.
6. تدریسي غړیو ته د اروا پوهنې نوېو لارو چارو په اړه روزنه ورکول او هم د زده کړې د معاصرو تخنیکونو برابرول
7. اداري مدیران په هغه مهارتو روزل او سنبالول چې د کارونو د ښه پرمخ بیولو وړتیا ترلاسه کړي.
8. په ښوونیزو مهارتونو، وړتیاوو او نوې ټکنالوژۍ باندې د علمي کادرونو سمبالول.
9. د ستراتیژیک پلان او کړنلارو د پلي کیدو په اړه د اداري پرسونل روزل.
10. د غوره زده کړې او ښوونې د زیاتېدنې او وده ورکونې په موخه دلرې واټن د زده کړې لپاره اسانتیاوو برابرول.
11. تدریسي غړو ته د انگریزي او نورو بهرنیو ژبو د روزنې اسانتیا برابرول.
12. پوهو او وړ استادانو له پاره د علمي ، څېړنیزو او عملي پروژو عملي کولو اسانتیاوو برابرول.

#### 1.11.2.3 د علمي شورا ایجاد

دا چې علمي شورا د پوهنتونونو او تحصیلي موسساتو په چوکات کې یو مبرم ضرورت دی، د پوهنتونونو او تحصیلي موسساتو د تدریسي او تحصیلی بهیر د ښه والي په موخه ډیری اساسي مسائل لکه د کیفیت تضمین، د کریکولم پراختیا، د علمي کادر د ترفیعاتو اړوند مسائل او داسې نور... د علمي شورا له شتون پرته ممکن نه دي او دا ایجابوي چې پوهنتونونه او تحصیلي موسسات د یادې شورا د تشکیل په برخه کې لاس په کار شي. نو په همدې اساس وردگ د لوړو زده کړو موسسه په پام کې لري چې په راتلونکو پنځو کلونو کې علمي شورا تشکیل او د پورته یادشویو اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې ترې کار واخلي.
وردگ د لوړو زده کړو موسسه په پام کې لري چې د یادې شورا د تشکیل په موخه لاندې کړنې ترسره کړي:

1. د علمي کادر د غړو له ډلې څخه د علمي شورا د تشکیل په موخه د وړ کسانو ټاکل .
2. د علمي شورا د غړو لپاره د اصلاحاتو په موخه نوې کړنلارې او پالیسۍ تهیه کول.
3. د علمي شورا په تشکیل او پراختیا کې د متخصصو اشخاصو، فارغانو او کارگمارنې مراجعو سره مشورې کول.
4. د هیواد له معتبرو پوهنتونونو څخه د یادې شورا په برخه کې مرسته ترلاسه کول او د هغوی له تجاربو څخه گټه اخیستل .
5. د شورا له کړنو څخه د مطلوبو موخو د لاسته راوړلو په غرض ارزونه.
6. د شورا د کړنو او اړوندو پروگرامونو څخه راپورونه راټولول.

#### 1.11.2.4 تضمین کیفیت او اعتبار تر لاسه کول

پوهنتونونه او تحصیلي بنسټونه د خپلو ملي او نړیوالو تحصیلي معیارونو په رڼا کې د خپلو خدماتو د ښه باور ترلاسه کولو په موخه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او څېړنیزو پروګرامونو کې بهتروالی راولي. نوموړې چارې د ملي او یا هم د نړیوالو اعتبار ورکونکو ادارو لخوا دبیا کتنې او ارزونې پروسو په بهیر کې ارزول کېږي چې په پایله کې یې اړوند پوهنتونونو خدمات د اعتبار بېلابېلې درجې ترلاسه کوي او د علمي او څېړنیزو چارو د نوي والي او غوره والی سبب ګرځي. وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

1. په ۱۴۰۱ لمریز کال کې د ملي تضمینونکو ادارو څخه د کیفیت تضمین د دوهمې مرحلې اکادمیک اعتبار ترلاسه کول.
2. په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د ملي تضمینونکو ادارو څخه د کیفیت تضمین د دریمې مرحلې اکادمیک اعتبار ترلاسه کول.
3. په ملي کچه د خدماتو کیفیت او درجې لوړول
4. د کیفیت د تضمین او لوړولو په موخه د مسلکي کاري ټیم رامنځته کول.
5. په ټولنه کې د اعتبار زیاتولو لپاره د ټولنیزو ستونزو په حل کې فعاله ونډه اخستل.
6. په تحصیلي مؤسسه کې د معیاري زده کړو لپاره ټولې اسانتیاوې برابرول.
7. د نظري زده کړو په څنګ کې عملي زده کړو ته اسانتیاوې برابرول.
8. د کیفیت د ښه والي په موخه د نورو پوهنتونونو او تحصیلي موسسو سره همغږې.
9. په زده کړو کې د تدریس نویو میتودونو څخه ګټه پورته کولو لپاره اسانتیاوې برابرول.
10. د پوهنتون د ستراتېژیکو موخو د تحقق لپاره له اړوندو پوهنځیو او څانګو سره همغږي.
11. د روزنیزو پروګرامونو پیاوړتیا او عامول.
12. محصیلنو، اداري او علمي کادر غړیو ته کیفیت د ښه والي د معیارونو په هکله عامه پوهاوی ورکول.

#### 1.11.2.5 درسي مواد پراختیا

نن ورځ د نړۍ پوهنتونونه په دې هڅه کې دي چې د باور ترلاسه کولو لپاره خپلو علمي پروګرامونو د کریکولمونو د سمون وروسته اړونده درسي مواد د نویو میتودونو په پام کې نیولو سره چمتو کړي، چې د مناسبو ښوونیزو موادو په تدریس سره وکولای شي چې له یوې خوا د وخت شرایط او بدلونونه په پام کې ونیسي او له بلې خوا د خپلو اړوند ښکېلو خواوو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي چې پایله به یې د مربوطه پوهنتون د لوړې درجې او باور تر لاس کول وي. وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه په راتلونکو پنځه کلونو کې د ښه باور د ترلاسه کولو په موخه د خپلو علمي پروګرامونو د ښوونیزو موادو د چمتو کولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

1. د نصاب او درسي موادو د سمون او ښه والي لپاره د کریکولم کمېټې رامنځته کول.
2. د کرېکولم کمېټې کړنې د نویو مېتودونو سره همغږې کول.
3. په پوهنځیو کې د نصاب او کریکولم کمېټې چارو ته ځانګړې پاملرنه او پراختیا ورکول.

4. د درسی موادو د پیاوړتیا په موخه د علمي کادر غړیو د تالیفاتو چارو ته خاصه توجه کول په دې برخه کې د هغوی هڅونه.
5. د پي ډي سی مرکز د دفتر فعالول او په کې د چارو ښه اجرا په موخه د وړ اشخاصو ګمارل.
6. د علمي کادر غړو لپاره د هېواد په داخل او له هېوادڅخه بهر د روزنیزو پروګرامونو برابرول.

#### 1.11.2.6 الکترونیکي زده کړې

دا چې په نړیواله کچه پوهنتونونه د حضوري زده کړو تر څنګ د غیر حضوري زده کړو پروګرامونه پر مخ وړي او د شته امکاناتو پر مټ د خپلو خدماتو پوښښ ته پراختیا ورکوي ، دې موخې ته د رسېدو په پار پوهنتونونه په خپلو خدماتو کې د ټکنالوژۍ ونډه زیاته او موثره ګټه ترې پورته کوي. د علمي او څېړنیزو بهیرونو د پیاوړتیا او موثریت لپاره پوهنتونونه خپلو اړونده ښکېلو برخو ته د برېښنایي اسانتیاوو په چمتوکولو سره هر اړخیز نوی والی او مثبت بدلون رامنځته کوي. د حضوري علمي پروګرامونو سره په څنګ کې پوهنتونونه اړ دي چې د انلاین کورسونو او ګډو زده کړو لپاره د انلاین سرچینو اسانتیاوې رامنځته او ګټه ترې پورته کړي. د نوموړې چارې د ښه مدیریت په موخه وردګ د لوړو زده کړو موسسه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د برېښنایي زده کړو کمېټې رامنځته کول.
2. د برېښنایي زده کړو په اړه علمي کادر غړیو ته د ورکشاپونو برابرول.
3. په ټولو پوهنځیو کې د برېښنایي زده کړو عامول.
4. د برېښنایي زده کړو د پروګرامونو پلي کېدا څخه بشپړه څارنه.
5. د برېښنایي زده کړو د ښه ترسراوي لپاره د یوې ځانګړې پالیسۍ(کړنلارې) رامنځته کول.
6. د ټولو پوهنځیو محصیلینو ته د برېښنایي زده کړو په هکله معلومات ورکول.

#### 1.11.2.7 معلوماتي ټکنالوژۍ ته لاسرسی

دا چې په نړۍ کې معلوماتي ټکنالوژۍ د معلوماتو په ترلاسه کولو، خوندیتوب ، د اړیکو په ټینګولو، ښه مدیریت او د روزنیزو پروګرامونو په برخه کې رغنده دنده ترسره کوي، اړینه ده چې پوهنتونونه هم په کافي اندازه خپلې چارې د معالوماتي ټکنالوژۍ پر مت پیاوړې کړي. وردګ د لوړو زده کړو موسسه هم معلوماتي ټکنالوژۍ څخه د خپلو چارو دسمون او چټکیا په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د زېربناوو جوړول.
2. د اداري، تخنیکي او مدیریتي چارو سمون او پراختیا.
3. سوپر وای فای (Wi-Fi) رامنځته کول.
4. ټول پوهنتونونه د ټکنالوژۍ پواسطه سره وصلول.
5. په ټولو اداري دفترونو کې ډیجېټل ټېلیفون اسانتیاوې رامنځته کول.
6. د تحقیقاتي مرکز لپاره یو مسؤل شخص ټاکل.
7. د معالوماتي ټکنالوژۍ ټولو کار کوونکو ته روزنیز ورکشاپونه برابرول.

#### 1.11.3 خدمات

زده کړې د وګړو یو له اساسي حقوقو څخه ګڼل کیږي چې له نیکه مرغه د هیواد د قانون له مخې د لیسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې د دولت لخوا په وړیا توګه د قانون د حکمونو په پام کې نیولو سره د پوهنتونونو لخوا وړاندې کیږي. عامه وګړي د لیسانس پروګرام زده کړو څخه پورته لوړې زده کړې د یو لړ لګښتونو په ورکولو سره په هیواد او له هیواد څخه بهر ترسره کولی شي. د ورد ګ د لوړو زده کړو مؤسسه د لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه یو شمیر علمي پروګرامونه په بیلا بیلو برخو کې پرمخ بیایي. لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د لاسرسي په موخه وردګ دلوړو زده کړو مؤسسه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د لوړو زده کړو د اهمیت په اړه عامه وګړو ته د عامه پوهاوي په پار هر اړخیز معلومات وړاندې کول.
2. د کانکور له لارې په شفافه توګه زده کړو ته د لاسرسي زمینه برابرول
3. د وړتیا او ظرفیت په پام کې نیولو سره بیلابیلو علمي پروګرامونو ته د محصیلینو ورپیژندل.
4. له هر ډول توپیر پرته هیوادوالو ته په مساویانه ډول د زده کړو حق ورکول او اسانتیاوې برابرول.
5. د وخت او بازار د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د نویو علمي پروګرامونو ایجادول

##### 1.11.3.1 لوړو زده کړو ته لاسرسی

د لوړو زده کړو وزارت پدې هڅه کې دی چې د هیواد وګړي یې په بیلابیلو علمي برخو کې لوړو زده کړو ته پراخه لاسرسي ولري. د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه په پراخه توګه لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه یو شمیر علمي پروګرامونه په بیلا بیلو برخو پرمخ بیایي. لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د پراخه لاسرسي په موخه پوهنتون په راتلونکو پنځو کلونو لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د علمي پروګرامونو د جذب ظرفیت لوړول
2. عامه وګړو ته د علمي پروګرامونو په اړه پوره او نوي معالومات ورکول
3. د وخت له غوښتنو سره سم د نویو علمي پروګرامونو رامنځته کول

##### 1.11.3.2 لوړو زده کړو ته د ښځینه وو لاسرسی

دا چې ښځې د ټولنې په بشري ځواک کې زیاته برخه تشکیلوي او د ټولنې په هر اړخیز پرمختګ کې د نارینه و تر څنګ په پراخه کچه اړوند چارې پرمخ بیایي، اړینه ده چې ښځینه هم له نارینه سره په ټولو حقوقو او امتیازاتو کې په مساوي اندازه ونډه ولري. د لوړو زده کړو په پروګرامونو کې هم د ښځینه وو ونډه د نارینه وو په څیر په پام کې نیول شوې. وردګ دلوړو زده کړو مؤسسه لوړو زده کړو ته د ښځینه وو د پراخه لاسرسي په موخه لاندې کړنې ترسره کوي.

1. ښځینه محصیلینو ته د پوهنتون په علمي پروګرامونو کې ګډون لپاره زمینه برابرول او تشویقول.
2. لوړو زده کړو ته د تشویق په موخه، که د معیاري ټولګې شمیره پوره کړي د جلا درسي ټولګیو چمتو کول
3. د ښځینه استادانو په علمي کادر کې شاملول
4. ښځینه لیلیو او ټرانسپورت اسانتیاوو تهیه کول.

#### 1.11.3.3 کریډټ سیستم تقویت او تطبیق

د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژۍ سره سم ډېری د هیواد پوهنتونونه د کریډیټ سیستم د اصولو په رڼا کې خپل روزنیز پروګرامونه پر مخ بیایي او له دې لارې محصیلینو د ښو پایلو لرونکو زده کړو او اسانتیاوو زمینه برابروي چې له یوې خوا محصلین وکولای شي له خپل توان سره سم د زده کړو بهیر پرمخ یوسي او له بل پلوه د نظري زده کړو تر څنګ د اړوندو عملي زده کړو له اسانتیاوو څخه هم برخمن شي. وردګ دلوړو زده کړو مؤسسه د کریډیټ سیستم زده کړو د پیاوړتیا او معیاري کیدو په پار لاندې کړنې په پام کې لرو.

